PROPERTY OF ACKU

دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

اونیزه
شهادت

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

ولي مو اسلام ومانه؟
۲ مخ

الهی فرمان

زویه! له خلکو په بې پروائي مخ مه اړوه، او د ځمکې په سر په غرور سره تلل مه کوه، چې الله (تعالی) هیڅ مغرور او کبرجن نه خوښوي.
زویه! پر لاره د تللو پر وخت اعتدال مراعات کړه، خپل غږ ټیټ کړه، (هیڅ کله چیغې مه وهه) چې تر ټولو بد غږ د خرو غږ دی.
(لقمان: ۱۸-۱۹)

شهادت دویم کال، ۵۳ مه ګڼه، چهارشنبه - ۱۳۸۹ هـ ل د وری ۲۵ مه د ربیع الثانی ۲۹ مه - ۱۴۳۱ هـ ق ۲۰۱۰ م د اپریل ۱۴

رئیس جمهور حامدکرزی آتشباری وحشیانه سربازان ناتو بالای یک موترمسافربری در کندهار محکوم کرد:

اتش باری بر موتر مسافر بری، یك عمل برخلاف تعهد قوای ناتو بوده که به هیچ وجه توجیه پذیر نیست



در خبر نامه یی که از دفتر مطبوعاتی ریاست جمهوری پخش شده روز دوشنبه قوای ناتو بالای یک موتر سرویس که از کندهار عازم ارزگان بود، آتشباری کردند که در نتیجه آن ۴ مسافر شهید و ۱۸ تن دیگر که در بین شان زنان و اطفال نیز شامل اند، زخمی شدند.
خبر نامه می افزاید که رئیس جمهور با تقبیح شدید این آتشباری قوای ناتو گفت: به گلوله بستن موتر مسافربری یک عمل برخلاف تعهد قوای ناتو، در حفظ جان مردم ملکی است و به هیچ وجه توجیه پذیر نمی باشد.
رئیس جمهور حامد کرزی آتشباری قوای ناتو بالای یک موتر سرویس را که منجر به کشته و زخمی شدن تعدادی از افراد ملکی در کندهار شد، به شدت محکوم کرد.
رئیس جمهور با تاثر زیاد بخاطر وقوع این حادثه، از قوای ناتو خواست تا در انجام تعهدات شان برای جلوگیری از تلفات ملکی با دقت و مسؤولیت تمام عمل کنند.

ناټو ځواکونو په کندهار کې:

دیوه مسافر وړونکې سرویس ۲۲ تنه سورلی مړه او ټپیان کړل

کندهار: خبری رسنی:
د کندهار او هرات ولایتونو ترمنیځ پرلویه لاره د ژړې په ولسوالی کې له مسافرو ډک په یوه ۳۰۳ موټر د ناټو ځواکونو له خوا ډزې وشوی چې په ترڅ کې یې دښځو او ماشومانو په ګډون ځلور تنه ځای پرځای مړه او ۱۸ تنه نور ټپیان شول.
دغه پېښه د دوشنبې په ورځ دوری په ۲۳مه ،سهار شا او خوا شپږ بجې دژړې والسوالی دسنځری په سیمه کې د کندهار- هرات پرلویه لارهغه مهال رامنځ ته شوه چې دغه مسافر وړونکی ۳۰۳ موټرله کندهار ځخه دهرات پر لور د تګ په حال کې وو.
دخبری رسنیو درپوټ پر اساس په ټپیانو کې هم مېرمنې اوکوچنیان شامل دی چې دیوشمېر ټپیانوروغتیایي حالت نازک ښودل شوی دی.
سرچینې زیاته کړې چې د ناټو ځواکونو یو کاروان، چې له میوند ولسوالی ځخه د ښار پر لوری روان و، پر مخامخ
پاتی ٤ مخ

ډاکتر فاروق وردګ:

د سولې د ملی مشورتی جرګې پایلې به د کابل کنفرانس مهمه اجنډا وي

کابل، خبری رسنی:
د سولې د ملی مشورتی جرګې د جوړولو کمیسیون وایي، چې د دې جرګې جوړولو ته ټول تیاری نیول شوی او په ټاکلې نیټه به ترسره شي.
د دې جرګې د تدارکاتو د کمیسیون مشراود پوهنې وزیر ډاکترفاروق وردګ د وری په ۲۳ مه د ولسې جرګې په عمومی غونډه کې وویل،چې په دې جرګه کې به په دولسو کنګوریو کې کابو دیارلس سوه تنه برخه واخلي.
د سولې د ملی مشورتی جرګې د تدارکاتو کمیسیون وایي، چې د سولې په اړه د دې جرګې ټولی مشورتی پریکړې به د کابل په راتلونکې کنفرانس کې وړاندې شی او په اړه به یې د نړیوالې ټولنې بشپړ ملاتړ ترلاسه شي.
د سولې د ملی مشورتی جرګې د تدارکاتو
پاتی ٤ مخ

طلحه محمود یك سناتور پاکستانی:

دختر ۱۱ سالهء عافیه صدیقی ساینس دان پاکستانی در زندان سرد و تاریک امریکا پیدا شد

اسلام آباد، فارس نیوز:
رئیس کمیتهء امور داخلی پارلمان پاکستان گفت که پس از چندین سال دختر "عافیه صدیقی "ساینس دان پاکستانی که نزد امریکایی ها گروگان است،درمیدان هوایی بگرام افغانستان پیدا شده است.
سناتور "طلحه محمود "رئیس کمیتهء امور داخلی پارلمان پاکستان در گفت وگوی اختصاصی با خبرگزاری فارس در اسلام آباد افشا کرد که دختر عافیه صدیقی ساینسدان پاکستانی که چندی پیش توسط امریکایی ها بازداشت شد، همراه یک شخص امریکایی تبار بنام "جان "در افغانستان دیده شده است.
این سناتور پاکستانی تأکید کرد اگر دا کترعافیه به پاکستان باز گردانده نشود، پایگاه تدارکاتی ناتو را مسدود خواهیم کرد.
رئیس کمیتهء امور داخلی پارلمان پاکستان یاد آور شد: افرادی ناشناس دختر ۱۱ ساله یی را در اطراف منزل دکتر فوزیه رها کرده بودند که بعد از بررسي‌ها مشخص شد نام وی مریم و فرزند داکتر عافیه صدیقی است.
وی در ادامه افزود: این دختر چندین سال در محلی سرد و تاریک زندانی بوده است.
رئیس کمیته امور داخلی پارلمان پاکستان تصریح کرد: ما با برپایی تظاهرات گستره، خواهان بازگشت وی هستیم و از این مسئله احساس ترس نمی کنیم زیرا این حق مردم پاکستان است.
طلحه محمود در پایان گفت: رئیس جمهور افغانستان قبلاً از وجود دختر دا کتر عافیه صدیقی در افغانستان خبر داده بود.
داکتر "عافیه صدیقی "معروف به ساینس دان پاکستانی هفت سال پیش توسط امریکایي ها در پاکستان به اتهام ارتباط با القاعده دستگیر و برای بازجویی به زندان بگرام در افغانستان منتقل شد.
پس از مدتی که وی در زندان بگرام در مقابل بازجوهای امریکایی مقاومت نشان داده بود، مورد آزار و اذیت قرار گرفت و به زندانی در امریکا منتقل شد و هم اکنون نیز در امریکا زندانی اشت.
امریکایي‌ها در همان سالی که وی را بازداشت کردند، دختر چهار ساله‌اش بنام مریم را نیز بطور مخفیانه دستگیر و به زندان بگرام در افغانستان منتقل کرده بودند.
چند روز پیش رحمان ملک وزیر داخله پاکستان در یک نشست خبری اعلام کرد که دختر ۱۲ساله به نام
بقیه در صفحه ٤

د بهرنیو چارو وزارت وایې:

ایران د افغاني بندیانو د اعدام لړی پیل کړې ده

کابل، خبری رسنی:
د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت او په ولسی جرګه کې د خلکو استازی وایي، چې ایران یو شمېر افغان بندیان اعدام کړی او داسې ښکاري، چې د هغو بندیانو د اعدامولو لړی یې پیل کړې، چې په اړه یې د دواړو هېوادونو ترمنځ خبرې هم شوې وې.

په ولسی جرګه کې د هرات ولایت استازی دوری په ۲۳مه د دې جرګې عمومي غونډې ته په خپل راپور کې په ایران کې د افغان بندیانو د اعدامولو خبر ورکړ.
ګل احمد امینی غونډې ته وویل، چې تراوسه پورې د پنځه ځلویښتو افغانانو مړي، چې په ایران کې اعدام شوی افغانستان ته را استول شوی دي.
نوموړی وویل: دا یو ظلم او جفا ده او دا بحث باید و نه درولې شی او په دې برخه کې دی زیات فشار راوستلې شي.
ښاغلی امینی وویل، چې ممکن په راتلونکو ورځو کې د یو شمېر نورو اعدام شوېو افغانانو
پاتی ٤ مخ

د وری په ۲۴ مه دولسي جرګې دټاکنو کاندیدانو ته د معلوماتو ورکولو بهیر پیلیږی

کابل، خبری رسنی:
د افغانستان د انتخاباتو خپلواک کمیسیون وایي، چې د ولسی جرګې د انتخاباتو لپاره یې جوړ کړی مهال ویش، په بریالی توګه پړاو په پړاو عملی کیږی او سباته به د کاندیدانو لپاره د معلوماتو د ورکولو بهیر پیل شي.
دغه خبره د انتخاباتو د خپلواک کمیسیون د دارالانشا مرستیال ذکریا بارکزی د دوشنبې په ورځ دوری په ۲۳ مه،په کابل کې یوې خبری غونډې ته وکړه او داسې یې زیاته کړه:
" د یوې اونۍ لپاره د ولسی جرګې د کاندیدانو لپاره د معلوماتو د ورکولو بهیر پیلیږي، دغه راز د حمل د میاشتې له ۳۱ مې ځخه به د ثور تر ۱۴ مې نېټې پورې د کاندیدانو د نوم لیکنې بهیر په خپلو ولایتی دفترونو کې تر سره کړو، بیا به ابتدایی لست خپور کړو او په پای کې به د شکایتونو له څېړنو وروسته خپل وروستې یا نهایی لسټ خپور کړو او انتخابات به په یوه شفافه فضا کې ترسره شي.
ښاغلی بارکزی وړاندې وویل، چې دا ځل د انتخاباتو د شفافیت د خوندیتوب په برخه کې کافی زیاته هڅه شوې ده، چې په ترڅ کې یې د پنځو ولایتی دفترونو مشران له دندو ګوښه او د انتخاباتو تقریباً ۶۰۰۰ کارکوونکی په تور لست کې شامل کړای شوی دي، چې دواړه ډلې خلک به څارنوالی
پاتی ٤ مخ

دمارجي اوسېدونکي :

په ژوند کې مو هیڅ مثبت بدلون نه دی راغلی

لښکرګاه، پژواک خبري اژانس:
د هلمند د مارجې ولسوالی یو شمېر اوسېدونکي ادعا کوي، چې له عملیاتو وروسته یې په ژوند کې هیڅ بدلون ندی راغلی او امنیتي حالت له پخوا ځخه خراب شوی دی .
مارجه، چې د هلمند د مرکز لښکرګاه سویل لور ته د ۳۰ کیلومترو په واټن کې پرته ولسوالی ده، دوه میاشتې مخکې زرګونو افغان او نړیوالو ځواکونو پکې عملیات ترسره کړل او دغه سیمه یې له طالبانو پاکه کړه .
خو ددې ولسوالی اوسېدونکي وایي، چې له عملیاتو وروسته امنیت نور هم خراب شوی او ګواښ یې کړی، که چېرې دې حالت ته بدلون ورنکړل شي، نو دا به د دولت او نړیوالو په زیان تمامه شي.
دمارجې د بلاک پنځ د سیمې یو اوسېدونکی عبدالستار وایي، چې د مارجې خلک په یوه لویه بلا اوښتي دي .
نوموړي وویل :نه پوهېږو چې ګناه مو څه ده، له یوې خوا مو امریکایي بحري ځواکونه په خپلو کروندو کې او له بلې خوا مو طالبان له دغو
پاتی ٤ مخ



د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

د ناټو ځواکونو يو بل ناروا عمل

تیره دوشنبې په ورځ قندهار کې ناټو ځواکونو د سورلیو پر یو ډک بس په خپلو نابرو ډزو کې یو ځل بیا لسگونه کورونه د ویر او ماتم په تغر کښنول د یو مور او دهغه د دریو ماشومانو په شمول پنځه تنه شهیدان او اته لس تنه نور یې ټپیان کړل. دا لومړی ځل نه دی چې ناټو ځواکونه د بی گناه ولسي وگړو په وینو خپل لاسونه سره کړي وي بلکې لدینه وړاندی هم د افغانستان په گڼو ولایتونو کې زرگونه بی گناه اولسي وگړي یې د خپل وحشت ښکار کړي او ددې ثبوت یې وړاندی کړی چې دوی د ترهگرو په ضد په جگړه کې پخپله د ترهگرۍ ناوړه اعمال ترسره کوي. که څه هم ددوی ددغه ظالمانه اقدام په خلاف د افغانستان ځوریدلی ولس خپل شدید احتجاج او کرکه وخت پر وخت ښکاره کړی ده مگر هر ځل د بخښنې د غوښتلو او بیا لپاره د نه تکرارولو د وعدو ترڅنگ د خپل عادت مطابق دغه غیر انساني او ظالمانه کرغیړن اعمالو ته د پخوا په څیر دوام ورکړیدی. تر اوسه ددوی دغه وحشیانه کړنو د مخ نیوی په خاطر، نه د ناټو غړو هیوادونو خپل مسؤولیت ادا کړیدي او نه هم د ملگرو ملتو اداری په دې اړه مؤثر گامونه اوچت کړیدي.

د افغانستان جنگ ځپلې اولس نه پوهیږي چاته فریاد وکړي او له چانه انصاف وغواړي.

د افغانستان اولس مشر ښاغلي کرزي په ډیرو شدیدو احتجاجونو خپل حلق وچ کړ، مطبوعاتو او رسنیو ډیر څه ولیکل، رادیوگانو او تلویزوني چینلونو ورباندی ډیرې تبصرې وکړې او دهغوی دغه غیر انساني عمل یې په سختو الفاظو وغندل خو ناټو ځواکونو تراوسه په هر څه ځانونه ړانده او کاڼه اچولي دي او هغه څه کوي چې څه یې زړه غواړي. څکه خو د افغانستان په وگړو کی دا تأثر عام دی چې امریکایی او ناټو ځواکونه اصلاً افغانستان ته د ترهگرۍ د ختمولو تر عنوان لاندې د ترهگرۍ د ودی او پرمختگ لپاره راغلي دي چې ښکاره ثبوتونه یی هر وخت د بی گناه اولسي وگړو وژل او بمباري کول دي. ښکاره خبره ده چې د افغانستان وگړي د ناټو ځواکونو له دغه غیر انساني عمل نه تر پوزې راغلي او د صبر کاسه یی تر څوکو ډکه شویده. هغه غربیان چې پخپلو کورو او هوټلونو کې مچان هم نشي زغملی او هغه د خپل د صحت لپاره خطر بولي، نو د افغانستان کړیدلې او جنگ ځپلی اولس به تر غاښو پورې په وسلو سنبال هغه بی رحمه پوځیان څنگه وزغمي چې هره ورځ د خلکو د ژوند ډیوی ورته مړی کوي او جونگړی ورته ورانوي؟!

د امریکا او ناټو ځواکونو غړي هیوادونه دی دا غلطی هیڅېرې ونکړي چې د افغانانو دغه صبر او زغم دهغوی کمزوري وگڼي. دوی دی دا د کاڼې کرښه وگڼي چې که چېرته د خپلو له دغو ظالمانه او غیر انسانی کړنو نه لاس په سر نشي او د بی گناه اولسي وگړو د وینې له بهیولونه ډډه ونکړی نو دوی به هم د روسانو په څیر د گرد ولس له شدید مقاومت او عکس العمل سره مخامخ شي.

ښه به دا وي چې امریکایی او ناټو ځواکونه واقعیت درک کړي او له ټولو هغو کړنو څخه په کلکه ډډه وکړي چې د افغانانو قهر او غصه راپاروي، که دوی خپل ماموریت د قانون په چوکات کې نشي پلی کولې او هسې د بې گناه افغانانو وینه تویوي نو بیا دې په حیا او ابرو کې له افغانستانه ووځي تر څو افغانانو ژوند تأمین او خپل سرنوشت پخپله وټاکي.

اولسمشر باید د ځان او اولس په منځ کې موجود حایلونه لرې کړي

فدا محمد فایض

تجربو ښودلی ده، چې کله هم یو څوک د یوې ادارې دا که کوچنی وي که لویه، په سر کې واقع شي، نو یو شمېر مداحان یې هم پـر خواوشـا راټـول شي، ددوی هڅه دا وي چې دهغه ټول پام د ځان خواتـه راواړوي، او داسې ورته وښيي چې همدوی یې د زړه له کومې دوستان دي او دهغه خیر غـواړي حال دا چې هغوی خپل خیر غواړي.

دیوه پاچا یا جمهور رئیس حالت هم همدا وي چې هغوی وغواړي که نه یو شمېر غوړه مالان یې پر خواو شا راټولېږي ددوی هڅه دا وي چې د پاچا یا اولسمشر او اولس ترمنځ یوه داسې فاصله او حایل ایجاد کړي، چې دهغه ټول پام فقط د همدوی مشورو ته وي یا دا چې ټول مسایل باید ددوی له عینکونـه وگوري.

افغان اولسمشر حامد کرزي، په دې وروستیو کې هم د نړیوالې ټولنې پـه وړاندې یو غوڅ او روښانه دریځ نیولی دی او هـم یـې د هېـواد ولایـاتو تـه سفرونه پیل کړي دي او غواړي چې د هېواد حالات پخپله له نژدې نه وگوري او د خلکو له خولو واوري چې هغوی څه وایي؛ لکـه پـه کنـدهار کـې چـې خلکو ورته ډېرې سپینې خبرې وکړې چې ده به هم طبیعی ده چې ډېر حقایق درک کړي وي.

حقیقت دادی چې هغه واکمن ډېر بریالی وي چې له اولـس سـره نـژدې اړیکې ولري او چې کله یې هم له اولس سره اړیکې پرې شوې بیـا دې نـو د خپل زوال له پاره ورځې شمېري.

زه غواړم دلته خپله یوه خاطره عرض کړم:

د ۱۳۶۱ – ۱۳۶۴ کلونو په منځ کې، هغه مهال چـې مـا پـه پېښور کـې د افغانستان د مجاهدینو د اسلامی اتحاد د یوی رسـنی (میاشـتنی مجلـه) شـهید پیغام د مسؤول مدیر مسؤولیت درلود، د مجلې د چاپ له پاره لاهور ته ولاړم، هلته مې په مطبعه کې چې شرکت پریس نومېده یو عراقی کرد ولید چې هغـه کوم شی د چاپ له پاره راوړي و، په دې کې مو خبرې سره شریکې شـوی او ځانونه مو یو بل ته وروپېژندل، له نوموړي نه مې وپوښتل چې تاسـې څـومره ډاډه یاست چې د صدام حسین په وړاندې به چې هغه مهال د عـراق اولسـمشر و، ستاسې مبارزه بریالی شي؟ آیا تاسی پر خپله کامیابی ډاډه یاست؟ هغـه پـه خواب کې وویل چې موږ خو به خپلې مبارزې ته په هر حال دوام ورکوو، خو پر خپله کامیابی ډېر ډاډه څکه نه یو چې صدام حسین یو "مهربـان دکتـاتور" دی، هغه له اولس سره خپلې اړیکې ساتي، پخپلـه ځـان دهغـوی لـه سـتونزو خبروي او ستونزی یې اواروي او یوازې د خپلو سیاسی حریفانو پـه وړانـدې غوڅ او ظالمانه عمل کوي.

نو خبره مې دا کوله که چېرې حامد کرزی وغواړي چې د یـوه کامیـاب اولسمشر په توگه تبارز وکړي، لاره یې همدا ده چې ځان له اولس سره نژدې کړي، دهغوی ستونزې ځانته معلومې کړي، او د خلکو غوښتنې واوري.

په خواشینی سره چې افغان اولس ددې ترڅنگ چې د بهرنیانو تـر فـشار لاندې دی، دا اوس هم د زورواکی له منگولو نه هم، نه دی خلاص؛ مافیـا پـه مختلفو بڼو پر افغان اولس خپل واک چلوي، د افغانـستان د قـانون، سیاسـت، اقتصاد، سوداگری او نور کاروبار واک همدغې مافیا پـه خپلـو منگولـو کـې اخستی.

دا خبره که د هر چا وه خو د سردار محمد داوود خان له خولـې متعارفـه شوه چې تصمیم د بري لومړی شرط دی، دا اوس د افغـان دولـت ډېـره لویـه کمزوري د تصمیم نشتوالی دی، ان چې دیوه والي او یوه ولسوال په بـاب پـه زغرده تصمیم نشي نیولی، په داسې حال کې چې یو واکمن دا که پاچا وي یـا اولسمشر باید له قاطعیت نه برخمن وي دا اوس موږ ډېر داسې والیان لرو چـې پردې خبر هم نه دي چې موږ هم له ځانه پورته څوک لرو که نه؛ بس هغـوی خپلې سیمې او خلک په حقیقت کې یرغمل کـړي دي، نـه دا چـې خپلـی اړوندې سیمې او دهغو خای اوسیدونکي؛ بلکې دولت یې هم یرغمـل کـړی دی.

امام بخاري پخپل صحیح کې د پیغمبر صلی الله علیه وسـلم دا حـدیث د ابوبکره په حواله را اخلي چې کله پیغمـبر صـلی الله علیـه وسـلم تـه دا خبـر راورسید چې د فارس خلکو د کسری لور خپله واکمنه وټاکله نو ویی فرمایل چې: لن یفلح قوم ولوا امرهم امرأة.

یعنی هغه قوم فلاح نه شي موندلی چې خپلې چارې یـوې ښـځې تـه وسپاري. دا حدیث احمد، نسایی او ترمذی هم رااخستی دی.

دا حدیث هم حضرت مولانا مودودی (رحمـهٔ الله علیـه) پخپـل کتـاب اسلامی ریاست کې رااخستی او پوره بحث یې پرې کړی او هم مولانا امیـن احسن اصلاحی (رحمهٔ الله علیـه) چـې دهغـه کتـاب هـم اسـلامی ریاسـت نومیږي، چې زه دلته ددې حدیث په تشریح کې د مولانا اصلاحی مرحوم دا نظر را اخلم چې لیکي: ((کله چې دیوه قوم (اولس) چارې ښځې ته وسپارل شي، نو د حکومت مزاج ښځینه کیږي)) یعنی څرنگه چې ښـځه یـو لطیـف جنس دی، او نرم خویه وي، نو هغه د حدود الله او اسلامی قوانینو پـه تطبیـق کې هغـې جرأت نه شي کولای لکه یو نارینه یې چې کوي او چـې کلـه د حدود الله تطبیق او د نورو قوانینو تطبیق وځنډیده نو دولت شړېږي او د دولت په حیث خصوصیت له لاسه ورکوي له دې نه موږ دې نتیجې ته رسیږو چـې جرأت ددولت له مهمو ځانگړنونه، شمیرل کیږي. کله چې دولت برلاسی نـه وي، نو بیا د دولت په حیث خپله دنده پرمخ نـه شـي بیـولای. زه دلتـه یـوې تاریخي پېښې ته اشاره کوم:

د حضرت علی (کرم والله وجهه) او حضرت معاویه (رضی الله تعالی عنه) د اختلاف په مسأله کې د حضرت علی (کرم والله وجهه) د موقف حقانیت کاملاً جوت و او دهغه د علم او تفقه په باب هم د حضرت پیغمبر (صـلی الله علیه وسلم) دا حدیث ډېر ښکاره ثبوت دی چـې: "انـا مدینـهٔ العلـم و علـی بابها" یعنی زه د علم ښار یم او علی یی دروازه ده. دهغه تفقه تر دې پورې وه چې مولانا اکبر شاه خان نجیب ابادی مرحوم پخپل تاریخ اسلام کې لیکـي: چې د جمل تر جنگ وروسته هـم چـې کلـه د ښـځونک د مـیراث مـسأله حضرت معاویه ته ورغله، هغه پرې پوه نه شو، نو د یوه لیک په وسیله یې له حضرت علی (رضـی الله عنه) نه وپوښتل چې بیا یې هغه د شرعی حکم په باب معلومات ورکړه، خو کله چې حضرت علی د خلکو له خـوا خلیفـه وټاکـل شو، هغه لا پخپل لښکر کې خپل حاکمیت پوره ټینگ کړی نه و چې بایـد د حضرت عثمان (رضی الله عنه) قاتلان محاکمه کړي، مگـر حـضرت معاویـه هغه له خوړې گوتې نه راونیو چې د حضرت عثمان (رضی الله عنـه) قـاتلان محاکمه کړي. که څه هم چې حضرت علی ډاډ ورکړ چې پـر اوضـاع لـه تسلط موندلو سره سم به لومړی همدا کار کوي، خو سمدلاسه دا کار څکـه نه شي کولای چې د حضرت عثمان (رضی الله عنه) قاتلان دده په لښکر کـې له کامل قوت او نفوذ نه برخمن دي چې پـه نتیجـه کـې د جمـل د جنـگ خونړی پېښه رامنځ ته شوه چې اسلامی امت ته یې خواشینوونکي نتـایج پـر ځای پرېښوول. ددې پېښی عمده لامل په هغـه خـاص زمـاني واټـن کـې د حضرت علی کامل نه تسلط و.

زما هدف دادی چې کله د دولت مشر له خلکو فاصله ونیسی او چې کله د دولت مشر یا په رښتیا هم کمزوری شي او یا هـم د عـدم جـرأت مظـاهره وکړي نو اولس ته زیانوونکي نتایج له ځان سره لري؛ نو ښاغلی کـرزی هـم باید نور دده او اولس ترمنځ رامنځته کـړای شـوی پـر دې وڅـیري او ددې ثبوت وړاندې کړي، چې دی یو خواکمن اولـسمشر دی او کولای شي چې د مظلوم گریوان د ظالم له خونړیو پنجو نه وژغوري. د کرزی د واکمنی اته نیم کاله وشوه، خواو شا ۳۴ ملیارده ډالر له افغانستان سره د مرستی په نامه راغلل، دا چې ډېرې پیسی ناسمې ولگېدې هغه هم د دولت په کفایت او نـه کفایـت پورې اړه لري، همدا ډول تر څلویښتو د زیـاتو هېـوادو نظـامي مرسـته هـم ورسره ده، چې دغسې مرسته د نړی د هیڅ هېواد له اولسمشر سره نشته، بیا نو پوښتنه داده چې ولې غوڅ او قاطع عمل نه شی کولای؟ که چېرې اولسمشر په ځان کې دا جوهر پیدا کړي چې اولس پر ځان ډاډه کـړي، او تـر شـایی ودرېږي، بیا خو نو د زورواکانو شمیر په سلنه کې هم نه شی راتـلای، بیـا دا زورواکان او مافیایي ډلې پخپله په دې اړ کیږي چې میدان پرېږدي او هېواد ته په رښتینې معنا سره سوله او ثبات راو گرځي. زیاتره کسان د بی ثباتی عوامـل د طالب په مخالفت کې گوري، حال دا چې ډېر عوامل یې پخپله د دولت تر ډیرې لاندې موجود دي.

هر څوک شخصیت کیدلې نشي

محمد خلیل

تیره ورځ د اطلاعاتو او کلتور وزیر ښاغلی سید مخدوم رهین په ځینو رسنیو انتقاد وکړ چې هغوی د مطبوعاتو د اصولو مراعات په نظر کی نه نیسی او د اشخاصو توهین کوي.

په حقیقت کی رسنی د ټولنی، ژبه او سترګه ده، کومی رسنی چې د حق پرځای د باطل او باطل پرځای د حق ملاتړ کوي هغه دخپل هیواد، خاورې او ټولنې سترمجرم دی.

د اسلام په سپیڅلی دین کی د چا په ناحقه توهین کول حرام او ناروا دی. نه ښائي یو انسان د بل انسان اهانت وکړي او هغه په ټولنه کی سپک کړي.

خو که په ټولنه کی یوڅوک له خپل اقتدار، زور او ځوکی نه ناروا ګټه اوچتوي، د قانون او عدالت جنازه اوباسي. په بیت المال کی بی ځای تصرف کوي، له خپل فرهنګ، عقیده او خاوري سره غداري کوي، خپل مسئولیت او دنده په سمه توګه نه ترسره کوي، له خپل اولس او ملت سره جفا کوي نو رسنی د هغه په اړه څه وکړي؟ ایا صرف د هغه د شخصیت په نظر کی نیولو سره د هغه په هره ګناه پرده واچوي او بی ځای صفت یی وکړي او که د هغه ددغو ناوړو کړنو په خلاف خپل آواز اوچت او ولس دهغه د کړغیړنو کارونو څخه خبر کړي؟ څرګنده خبره ده چې د نړی په یو ګوټ کی هم دا څوک نشي منلی چې دداسې شخص په خلاف دې رسنی له چوپتیا نه کار واخلي او د هغه د ناروا کرتوت په خلاف غږ پورته نکړي.

زموږ ستر پیغمبر محمدصلی الله علیه وسلم مسلمانانوته دا مسئولیت سپارلی دی چې کله تاسې په ټولنه کی څوک په منکراتو کی ککړ ووینی نو هغه پخپل لاس منع کړی، که په لاس مو نشوه منع کولې نو په خبرویی منع کړئ که په خبرو یې هم نشئ منع کولې نو په زړه کی ورسره بغض وساتی او دا ستاسی کمزوری ایمان دی.

حق او باطل دوه متضاد لوری دي، په هره ټولنه کی چې باطل سر اوچت کړي حق ورسره ضرور ټکر کوي. همدا له امله دی چې له لومړی ورځی نه د حق بیرغ رپانده دی او باطل هغه نشي کوزولی. که چیرته د باطل په خلاف حق میدان ته نه وای دګلې نو تر اوسه پورې به حق له منځه تلی و، او باطل به په ګرده نړی خپلی توری وزری خورې کړې وی، همدا د حق ویلو او د حق دلیکلو برکت دی چې تر اوسه حق پخپل اصل حالت کی پاتی دی او تر قیامته به سرلوړی وي.

محمد صلی الله علیه وسلم خپل امت ته څرګند پیغام ورکړیدي چې تر ټولو لوی جهاد دادی چې د ظالم حکمران په وړاندی حقه خبره وویل شي، کله چې د جابر حکمران په وړاندی د حق خبره کول لوی جهاد دی نو د هیواد، خاوری او اسلامي فرهنګ ددښمن اشخاصو په وړاندی حقه خبره کول او یا لیکل خو په طریق اولی جهاد دی.

زموږ سپیڅلی دین ددې خبرې هرګز اجازه نه ورکوي چې چاته سټغې سپورې او یا هم له اخلاقه پریوتې الفاظ استعمال کړی شي ولو که هغه کافر هم وي، زه ګمان نه کوم چې په متعهدو رسنیو کی به چا ددی خیال نه وي ساتلی، که احیاناً څوک یی نه ساتي نو هغه ته پکار دي چې خپل مسئولیت په سمه توګه ترسره کړي او لدی ستری ګناه ځان وساتي، خو دا واقعیت دی هم په پام کې ونیول شی چې د توهین او حقې خبری ترمنځ باید توپیر وکړي شي. زموږ په ټولنه کی دالویه المیه او غلط رواج دی چې ډیر زور واکان او برلاسي اشخاص د چا حقه خبره هم د خپل ځان توهین ګڼي او د حقې خبرې د اوریدو زغم په ځان کی نه لري. هغوی ته خپل ځان په هرڅه پوره او کامل ښکاري خپل هر کار او هره فیصله خو ورته حق معلومیږي مګر د بل چا پرځای مشوره او تنقیدته هم د توهین رنګ ورکوی.

زمونږ په ټولنه کی دوه ډوله شخصیتونه ترسترګو کیږی یو هغه ډول اشخاص دي چې هغوی ته خلک د هغوی د خپل قابلیت، تقوی خودي، ایمانداري او اخلاص په خاطر د احترام په نظر ګوري د هغوی خدمتونه، ایثار، فداکاري او خواخوږي هرچاته دلمر په څیر څرګند دي، داسې اشخاص د ملت محسن او ددې وړ دي چې دهغوی د احساناتو قدرداني وشي.

بل هغه جعلي او خود ساخته اشخاص دي چې د خپل زور، زر، ظلم او بد معاشی په نتیجه کی په کور، کلي، قریه او حکومتونو کی ځای پرځای شوی دي، که دا خلک ظاهراً څومره قوي اشخاص په نظر راځي مګر په حقیقت کی دوی ته اشخاص ویل او ددوی په خلاف د حق دنه ویلو څخه ډډه کول د حق په خلاف ښکاره جنګ او سپکاوی دی.

څنګه چې د متعهدو رسنیو او لیکوالانو په قاموس کې ددې خبرې ځای نشته چې د چا په خلاف له اخلاقه پریوتې او بازاري الفاظ استعمال کړي، همداسی ددې خبرې هم هیڅ ځای نشته چې له اسلام او له قانون نه سرغړو ونکو اشخاصو په خلاف له خپلی ژبی او قلم څخه کار وانخلی.

ښکه چې د الله (جل جلاله) او د هغه د رسول (صلی الله علیه وسلم) له لوری ورته دا مسئولیت ور په غاړه شوی چې د هر باطل او جابر په خلاف خپله ژبه او قلم پکار واچوي.

زموږ مشران او کشران که هغوی ....

پاتی ٤ مخ

پخپله ذبح کوي او پخپلهورباندې ژاړي

عبیدالله صافی

د اداري فساد په وړاندې پر ستراتیژۍ د څار عالي اداری مشر، یاسین عثماني دورې په ۱۵مه نیټه په مشرانو جرګه کی وویل: د اداري فساد کچه دومره لوړه شوی ده چې دده په خبره د قانون حاکمیت یی تر پوښتنې لاندی راوستی دی.

نوموړي بهرني وګړي په لوړه کچه په اداري فساد تورن کړل او څرګنده یی کړه چې د افغانستان دولتي مقامات نشي کولای چې له دغو بهرنیانو سره حساب وکړي.

ښاغلی عثماني زیاته کړه چې په هره قضیه کی دزور واکو وګړو لاسوهنه، د یو شمیر کسانو په خوښه د قوانینو تغیریدل، په مالي چارو کی بی ځایه لاسوهنی، ددولت پیچلې اداری جوړښت، د ظرفیتونو قصدي له منځه وړل، د اړیکو له مخی په دندو دیو شمیر کسانو ګمارل، او د مکافاتو نه شتون د اداري فساد له مهمو لاملونو څخه دي.

د عثماني صاحب وینا د هغه متل مصداق دی چې وایی: پخپل لاس یی ذبح کوي او پخپله ورباندې ژاړي.

ټول افغانان پوهیږی چې په افغانستان کی د فساد ستر لوري بهرنیان او زیاتره حکومتي چارواکی دي یعنی دواړه لګیا دي په پوره بی رحمی د هیواد شتمني لوټوي او پخپلو جیبو کی اچوي. د عثماني صاحب له دغی وینا سره چې دولتي مقامات نشي کولي له بهرنیانو سره حساب وکړي موږ ورسره هم متفق یو څکه چې کوم دولت له خپلو مامورینو سره حساب نشي کولی له بهرنیانو سره به څه حساب وکړي؟ هغه پخپله اعتراف کوي چې په حکومت کی د اداري فساد کچه دومره لوړه شویده چې د قانون حاکمیت یی تر پوښتنې لاندې راوستې دی کله چې اداري فساد پخپله د قانون حاکمیت تر پوښتنې لاندی راوستې دی نو ددی مطلب داشو چې حکومت پخپله د نیم حلال شوی چرګ په څیر شیټکی وهي او د هیڅ کولو توان نه لري.

عثمانی صاحب په مشرانو جرګه کی د دولت ډیر ښه تصویر وړاندې کړی او اولس ته یی په څرګندو ټکو کی دا پیغام ورکړیدی چې د اداري فساد اصلي لوبغاړي پخپله حکومتی چارواکی دي او په دی کی ککړ کسان دومره غښتلي او برلاسی دي چې آن قانون هم د هغوی په وړاندی عاجز دی، یا په بله معنی قانون هم د هغوی په لاس کی ګروي اېښودل شوې دې.

د ښاغلي عثماني صاحب دغه خبره چې په هره قضیه کی د زور واکانو لاسوهنه، د یو شمیر کسانو په خوښه د قوانینو تغیر او تبدیل، په مالي چاروکی بی ځایه لاسوهنی، ددولت پیچلې اداري جوړښت د ظرفیتونو قصدي له منځه وړل، د اړیکو له مخې په دندو د یو شمیر کسانو ګمارل او د مکافاتونه شتون د اداري فساد له مهمو لاملونو څخه دي، په دی خبره څرګند ګواهي ورکوي چې اوبه بره له چینې نه خړی دي. ترڅو چی پخپله چینه نه وي پاکه شوې لاندی اوبه نه صفا کیږي.

داسې یو حکومت چی پخپل ګناه او بی وسې پخپله اعتراف کوي او ملت ته په واژه کومی اعلان کوي چی د اداري فساد اصلي جړ پخپله حکومتی چارواکي دي د اولس پر ټپونو د مالګی او مرچکي دوړولو پرته بل هیڅ معنی نلري.

که د فساد په خلاف د دومره شته امکاناتو باوجود حکومت، پوځ، پولیس، قانون او عدلیه خپل اسلامي او ملي فریضه نشي ترسره کولې، نو خالی لاس او بی واکه اولس به له اوښکو بیولو پرته بل څه وکړی شي؟

ملت خو جمهور رئیس او وکیلانوته دی لپاره خپلی رای ورکړي دي چې د هیواد د استحکام او بیت المال د حفاظت مسئولیت ترسره کړي، اوس دا د حکومت فرض دی چې د خپل اولس غوښتنې په نظر کی ونیسي او په فساد کی د ککړو کسانو له انحصارنه د وتلو لپاره مضبوط ګامونه اوچت کړي، کرزی صاحب دې یوازی په فریادونو خپله زړه نه تشوی بلکی د فساد په خلاف دی عملاً میدان ته وداګی، داسی اولس مشر چې د ولس په ملاتړ اقتدارته رسیدلی هغه ته نه ښایی خپل ځان دومره کمزوری وګڼي چې د فساد په خلاف په ودریدو کی بې حوصلې شي.

دا ملت د ګوتو په شمار دځو کسانو نه دی چې کرزی د هغوی په وړاندی په ګونډو شي او هغوی چی هره ناروا عمل کوي قانون ورباندی عملي ونکړی شي. یقیناً چی دا وطن د ټول افغانانو دی او همدوی ددی خاوري وارثان دي. ملت نه غواړی چی څو محدود داړه ماران دی د هغوی بیت المال تالان کړي. ملت له دغه حالت نه تر پوزی راغلی دی او د ولس مشر د هر هغه اقدام کلک ملاتړ کوي چې د فساد د مخنیوي لپاره اوچتوي ښه به داوي چې ښاغلی کرزی د اداري فساد په وړاندی خپل مسئولیت په جدي توګه تر سره او د عمل میدان ته وداګي. هغه دی په دی خبره بشپړ بروسه وساتي چې د اداري فساد په خلاف مبارزه او ټولو نیکو کارونو کی ولس د هغه ترشا ولاړ دی.

دا واخت نه د مصلحتونو د پاللو وخت دی او نه هم د ویریدو، که چیرته مصلحت پالنه او ویره څه ګټه درلودای نو اداری فساد به دومره نه وغښتلی شوی چې د قانون حاکمیت یی هم تر پوښتنو لاندی راوستې دی.

د یو هیواد د قوت اصل راز د قانون حاکمیت دی، کله چې د قانون احترام تر پښو لاندی شي او د خلکو په نظر کی هسې یو مذاق وګرځي نو هغه هیواد د یو داسی ځنګل بڼه غوره کوي چی...

پاتی ٤ مخ

ولي مو اسلام ومانه؟

پخوانی نوم: یوایل کندن
اوسنی نوم: خالد
پخوانی مذهب: عیسائی
د هیواد نوم: پاکستان

د یو مسلمان شوي ځوان، له درد نه ډکه کیسه

موږ په ۱۹۸۵ میلادي کال په کراچې کې د خیابان شجاعت نومی ځای کې اوسیدلو. زه او زما مور د یوه فرانسوي ښونځی استاد مول په کورکې چې پخپله د فرانس اوسیدونکی و خدمت کاو له دغه فرانسوي استاد سره د هغه میرمنه او زامن هم وو.

زما مور به د هغه دماشومانو پالنه کوله او ما به د کور د څو کیداری ترڅنګ له بازاره سودا او نور ضروري شیان راوړل. سره لدی چې موږ عیسویان وو خو چرچ ته به ډیر لږ تللو خو کورکی به می کله کله له ویده کیدو مخکی د خپل عیسویت په طریقه عبادت او دعاګانی کولې.

یوه شپه می په خوب کی ولید چې ډیر خطرناک طوفان دی زموږ د کور شاخوا ټول کورونه یی ویوړل مګر زموږ د ختو کور لا امانت ولاړ و.

زه وایم ای الله د خلکو کورونه خوتباه شول مګر زموږ کور صحیح سلامت څنګه ولاړ دی؟ له دغی خبرې نه وروسته ګورم چې د سمندر په غاړه روان یم، په دی وخت له اسمانه غیبي آواز وشو چې ای خالده! له خپل زړنه کفر وباسه.

زما نوم خالد نه و بلکی یو ایل کندن و، ما خالد نوم په هغه وخت ځان لپاره غوره کړی و چې زما مور له خپل خاوندنه طلاق اخستو وروسته په کراچې کی د یو عرب په کورکی نوکره وه د هغوی د یو زوی نوم خالد و، زما د هغه دا نوم ډیر خوښ شو او مورته مې وویل چې ماته دی خالد ووائي. دا راته نه و معلوم چې یوه ورځ به دغه نوم زما لپاره د خوش بختی ستوری جوړیږي کله چې زه له خوبه بیدار شوم نو یو قسم پریشانی زما په زړه کی پیدا شو.

ما چې خپل خوب مورته وویل نو هغی راته وویل هسې خوب دی لیدلی دې دیته اهمیت مه ورکوه. یو کال وروسته موږ د کراچې په ډیفنس کالونی کی کور په کرایه ونیوه، کورته نژدې د عباس مسجد په نوم یو جومات و، هلته به تبلیغ والا زیات راتلل. یوه ورځ مسجد ته نژدې ولاړوم چې څو تنه تبلیغیان زما خواته راغلل او راته یی وویل: په مسجد کې د الله او د هغه د رسول خبری کیږي تاسې هم هلته راشئ. ما ددې پرځای چې ورته ووایم زه عیسائی یم ورته مې وویل ښه ده را به شم، دا یوه بهانه وه چې ما ورته وکړه خو د هغوی دعوت زما په زړه کی ډیر خوږ لګیدلی و.

څو ورځی پس د روژی مبارکه میاشت راتلو والا و، ما په زړه کی وویل چې موږ عیسویان هم روژی نیسو راځه له مسلمانانو سره هم یوه ورځ روژه ونیسه، ما هم د روژې په لومړی ورځ روژه ونیوله او زړه کی مې عزم وکړ چې نن به هیڅ غلط کار او غلطه خبره نه کوم. په هغه ورځ می روژه ونیوله، او په زړه کی مې راغله راځه لمونځ هم وکړه ما کله لمونځ نه وکړی نو څکه طیبه کلمه مې وویله او مطمئن شوم چې زه اوس رښتونی مسلمان یم، د کلمې له ویلو وروسته د لمونځ لوستلو لپاره مسجدته لاړم او امام پسې مې د ماسپښین لمونځ ادا کړ او بیرته کورته راغلم، د لمونځ له ادا کولو وروسته زما روح ډیر خوشال او تازه شو. څرنګه چې موږ دلته نوي راغلی وو او خلکو موږ نه پیژندلو نو څکه مسجدته زما په راتلو چا اعتراض ونکړ.

سباته مې بیا روژه ونیوه ښونځی ته د تللو په وخت مې له دکان نه د اسان لمونځ پاره واخستله او د اکبر نومی یو هلک نه مې چې زما دوست و لمونځ زده کړ، د خوند خبره داده چې لمونځ مې ډیر ژر زده کړه.

زما مور او زما کشر ورور زما په دی حرکت ډیر خفه وو، په دی ورځوکی زما ماما امانت مسیح چې موږ کره راغلی و زما په دی حرکت خبر شو، کله چې هغه خپل کلی ساڅګړته لاړ نو هغه هلته زما د مسلمانیدو خبره ښه رسوا کړه.

زما نکاح په وړوکتوب کی زما د کشر ماما له لور سره تړل شوی و نو څکه زه پریشان وم چې هسې نه ماته له ورکولونه انکار وکړی.

څه وخت وروسته موږ دا کور هم پریښود او یوې بلې محلی ته لاړو هلته زما مورته په یوه بنګله کی د اشپزي کار پیدا شوه او خلکو د اوسیدو لپاره مفت کور هم راکړ. د ښوونځي څخه له راتلو وروسته می د خیاطی په دکان کی کار شروع کړل کله چې هغوی ته معلوم شو چې ما اسلام قبول کړی دی نو ډیر خوشال شول. د دکان استاد محمد حیات او د هغه دوست مولانا عبدالغفور صاحب راته وویل: ستا دمسلمانیدو خبره خو صحیح ده، مګر د اسلام د قبلولو لپاره له تاسره سند هم پکار دی، ما ورته وویل زه خو نه پوهیږم چې دا سند له کوم ځای ترلاسه کړم تاسی په دی باره کی ماته لارښوونه وکړی، سباته د رجب د میاشتې په نهمه نیټه کال ۱۹۸۸م موږ دری واړه دارالافتاء جامع علوم اسلامیه بنوري ټاؤن کراچی ته راغلو او مفتي محمد شفیع صاحب په لاس می د اسلام دین ومانه، په سند کی مولانا عبدالغفور او محمد حیات صاحب د ګواه په توګه دستخطونه وکړل او په دی توګه ماته د اسلام د قبلولو سند ترلاسه شو.

څو ورځی وروسته خپل ماما کره سانګهړته لاړم او هلته مې له ماما لور سره چې له وړوکیوالی نه د هغی نکاح له ماسره شوی وه د خپل مسلمانیدو کیسه ورته وکړه. که څه هم هغه حیرانه شوه خو له غور او فکر نه وروسته هغی هم د اسلام قبلولو فیصله وکړه او په عدالت کی مو نکاح وکړه په کرسچن کالونی کی عیسویانو زما په خلاف زما د مور په زړه کې ددښمنی زهر واچوله او زما وروړته هم طعنی ورکړی چې ستا ورور مسلمان شوی دی، خبره تر دی ورسیدله چې زما مور ماته د اسلام د پریښودلو او بیرته د عیسویت د قبلولو بلنه راکړه او راته یی وویل چې ما ټول عمر ستا او ستا دوړوکی ورور لپاره د خلکو خدمتونه کړیدي آیا ته زما دغه یوه خبره هم نشې منلی چې مسلماني پرېږدې او بیرته عیسوی شې؟ هغی دا خبره هره ورځ ماته کوله، بالاخر د هغی له دی خبری نه په تنګ راغلم او ورته مې وویل زه تاسې ټول پریښودي شم مګر اسلام نشم پریښودلې له هغوی نه مې کډه وکړه او له خپلی ښځی او ماشومانو سره یو ځای می د کراچی په قیوم آباد

پاتی ٤ مخ

شهادت جریده

خپرونکی اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي څانګه
د امتیاز څښتن: حزب اسلامي افغانستان .
مسؤول مدیر: عبدالله کامه وال
مرستیال: عبدالخلیل (محمد خلیل)
اړیکو شمېره ۰۷۰۸۱۹۸۵۸۲
د کښتپلاوي تر څارنې لاندې:
آدرس د حزب اسلامي دفتر: سیلو ته مخامخ خوشحال خان مېنه

نبوی ارشاد

له عبدالله بن عمر رضی الله عنه څخه روایت دی هغه وایی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

کوم سړی چې د لمونځ اهتمام وکړي نو د قیامت په ورځ لمونځ د هغه لپاره رڼا ګرځي، د حساب په وخت ورته دلیل ګرځي او د نجات سبب ورته جوړېږي، او کوم سړی چی د لمونځ اهتمام ونکړي، د هغه لپاره به د قیامت په ورځ نه رڼا وي، نه دلیل او نه هم د نجات ذریعه، هغه به له فرعون، هامان او ابی بن خلف سره پاڅېږي.

(مشکواة)

ولې مو اسلام ومانه؟....

کی یو کور په کرایه ونیوله، څو میاشتې نه وی تیری شوي چې مور زه بیرته رضا کړم او له ځان سره کورته بوتلم. هغی ماته د اسلام د پرېښودو خبره خو کله هم ونکړه مګر یوه ورځ د ډیري د کلولو غوښتنه ضررو وکړه خو ما وروته وویل موري داسی هرګز نشم کولې چې د خپل پیغمبر سنت پرېږدم.

عیسویانو به له ماسره بحث او مباحثې کولی، په اول کی خو وېرېدم چې هسې نه ملامت می نه کړي مګر له اسلام سره زما د مینی برکت و چې د هغوی سوالونو او اعتراضونوته به می خوابونه ورکول خو کله مې چې د مولانا تقی عثمانی صاحب (عیسائیت کیا هی) او د مولانا رحمت الله کیرانوي کتاب اظهار الحق (بائبل سی قرآن تک) او د احمد دیدات څو رسالی زما لاس ته راغلې نو زه ددی قابل شوم چې د عیسویانو هر اعتراض ته غابښ ماتوونکی ځوابونه ورکړم. همداسی وشول هم چې ما په هر بحث او مباحثه کی عیسویان ملامت او سر کوزي کړل.

د مولانا رحمت الله کیرانوي مرحوم کتاب په اظهارالحق کی د عیسویانو د عقیدی په خلاف داسی مدلل او قانع کوونکی دلائل موجود دي چې عقل ورته حیران پاتی کیږي.

زه په دعوی سره ویلی شم چې که دګردی نړی عیسویان د خپل عیسویت د دفاع لپاره راغونډ شی د اظهارالحق د کتاب یو سوال ته به هم ځواب ورنکړی شي.

ددی کتاب د خپرېدو سل کاله کېږی مګر تر اوسه یو عیسوی هم ددی ځواب په لیکلو نه دي قادر شوي.

په آخر کی له خپلو مسلمانو ورونو څخه هیله کوم چې زما او زما د ښځې او ماشومانو لپاره د اسلام په دین کلک ودرېدو او پر هغه د عمل کولو دعا وکړي. زما مور او ورور لپاره دی هم دعا وکړي چې الله تعالی هغوی ته د اسلام قبلولو توفیق ورکړي.

پیام تعزیت

به مقام محترم رهبری شورای حزب اسلامی افغانستان!

اسلام علیکم و رحمت الله و برکاته:

وبعد:

با تاسف زایدالوصفی اطلاع حاصل نمودیم که یکی از برادران نهضتی ما الحاج معلم عبدالرحمن که از مدت زمانی به اینطرف مورد تهدید و تخویف دشمنان اسلام و جهاد و یا به لفظ دیگری اجیران بی فرهنگ و اسلام دشمن قرار داشت ، اخیراً درحال خروج از منزلش آنهم غرض ادای فریضه دینی در ولسوالی ګرشک ولایت هلمند مظلومانه مورد حمله مسلحانه قرار ګرفته و به درجه رفیع شهادت نائل آمده، که ما منسوبین دفتر ولایتی تخار حزب اسلامی افغانستان شهادت این رادمرد شناخته شده، برادر عزیز و محبوب القلوب همه مجاهدان حزب اسلامی، مرد قلم و شیوا بیان را که در توضیح، تحلیل و ارایه مطالب سیاسی، اجتماعی، فرهنگی ... و غیره ید طولا و نبوغ ګونه یی داشت و از لحاظ اخلاص، تقوا، تعهد و ریاضت در زمرهٔ مجاهدان حزب اسلامی افغانستان چون: ستاره درخشانی در آسمان نیلګون و بی کران حزب اسلامی می درخشید ، حضورهمه اعضای محترم فامیل داغدار این شهیدهمیشه زنده، مجاهدین مؤمن و متعهد ولایت هلمند ، مقام محترم رهبری و شورای رهبری حزب اسلامی و همه مجاهدین مخلص و استعمار شکن حزب اسلامی افغانستان در همه ولایات کشور تسلیت عرض نموده، شهادت این برادر مجاهد را درین مرحله حساس و سرنوشت سازکشور و حزب اسلامی ضایعه بزرګ و جبران ناپذیر محسوب نموده از بارګاه خداوند ارحم الراحمین برای این برادر شهید جنت الفردوس و اجر جزیل خواهانیم و توام با این باعجز و نیاز بندګی حشر این شهید بزرګوار را در جمله شهدای بدر و احد و شهدای نامدار و همیشه زنده نهضت التماس می نمائیم و از خداوند (ج) میخواهم تا قاتلین مزدورش را با جباری خویش معذوب کونین سازد. (اناالله وانا الیه راجعون)

سید نظام الدین ((زیارمل))
۱۷ حمل ۱۳۸۹ هـ ش

هر څوک شخصیت ...

لوړ پوړي دي او که ټیټ پوړي د ژوند په هر ډګر کې چې کار کوي باید پخپلو ځانو کی د حق د ویلو او د حق د آورېدو حوصله پیدا کړي.

پخپله دی هم خبرې وکړي او د بل چا خبرې دی هم په پرانستو غوږ واوري، پخپله دی هم مشوره ورکړي او د بل چا مشوروته دی هم په غور غوږ کېږدي، پخپله دی هم د اخلاق ژبه استعمال کړي او بل ته دی هم د اخلاق د ژبې د استعمالولو توصیه وکړي، د اسلامي ټولنې همدا ځانګړنه ده دیته باید پوره پاملرنه وشي او هر څوک دی ورباندې په مساوي ډول عمل وکړي، ولس او چارواکي پخپلو کې د نوک او غوښې مثال لري چې د یو بل له مشوری او مرستې نه پرته ژوند نشي کولې.

پخپله ذبح کوي او ...

هلته صرف او صرف څو داړونکی ځناور خپلې غوښتنې ترسره کوي، د کمزورو وینې څکي او پرغوښویی شخوند وهي. یقیناً چی یو انسانې ټولنه د ځنګل ددغه ناروا قانون تحمل نشي کولی.

ښاغلی عثماني صاحب چی پخپله وینا کی د افغانستان د حالاتو پر حقایقو ولاړ کوم ژوندی تصویر وړاندی کړی. نه ښایی ولسمشر او نور مخلص چارواکی په فساد کې د ککړو داړه مارانو په وړاندی لاس ترزنی کېني او د شهیدانو ټاټوبی د هغوی رحم او کرم ته پرېږدي.

دیوه مسافر وړونکې سرویس ...

راتلونکې ۳۰۳ موټر ، چې له کندهار څخه د هرات پر لور روان و، دزې وکړې،چې په ترڅ کې یې دغه خونړۍ پېښه را منځته شوه.

دولایت چارواکې وایي چې ددې پېښې په ترڅ کې د ۳۰۳ موټر څلور تنه سپرلی وژل شوی او ۱۸ نور ټپیان شوی دي.

په خبر کې زیاته شوې ده چې ددې پېښې ځینی ټپیان دایساف ځواکونو، خپل روغتون ته لېږدویل دي.

بل خوا ویل شوی دی چې په کندهار کې خایی چارواکو او ولسی وګړوددې پېښې په اړه جدی غبرګون ښودلی، او ددې پېښې دعاملینو دېې وسلې کولو او دهغوی دمحاکمې غوښتنه یې کړې ده.

دکندهاروالی توریالی ویسا رسنیو ته وویل چې دغه پېښه یونه بخښونکی جرم دی اودوی په اړه له نړیوالوځواکونوسره جدی خبری کړې دي.

ده زیاته کړه چې له نړیوالوځواکونوڅخه یې ددغوسرتیرودخلع سلاح اودمحاکمې غوښتنه کړې ده.

دختر ۱۱ سالهء عافیه صدیقی ...

مریم صدیقی دختر همان زن دانشمند پاکستانی است که در امریکا زندانی است، پیدا شده و مشخص شده است که در پایګاه امریکایی بګرام زندانی بوده است.

این دختر حدود هفت سال در زندان امریکایی بګرام در افغانستان محبوس بوده و چند روز پیش امریکایی ها وی را در یکی از محله های شهر اسلام آباد رها کرده بودند که بر اساس آزمایش لابراتورای دي.ان.ای (DNA) هویت وی مشخص شد.

د سولې د ملی مشورتی جرګې ...

رییس او د پوهنې وزیر ډاکټر فاروق وردک د وری په ۲۳مه د ولسې جرګې غړو ته د سولې د ملی مشورتی جرګې د جوړېدو په اړه معلومات ورکړل

او څرګنده یې کړه، چې د دې جرګې پرېکړې په افغانستان کې د سولې او ثبات د راوستو لپاره حیاتی ارزښت لري.

ښاغلی وردک وویل، چې امریکا او نړیوالې ټولنې د سولې له ملی مشورتی جرګې څخه بشپړ ملاتړ کړی او د سولې او ملی پخلاینې په اړه به د دې جرګې د پرېکړو په هکله نور نړیوال ملاتړ هم ترلاسه شي:

"د سولې د ملی مشورتی جرګې نتایج به د کابل کنفرانس مهمه اجنډاوی یعنې د کابل په کنفرانس کې چې د لندن د نړیوال کنفرانس دوام دی د سولې طرحه نړیوالو ته وړاندې کېږی اوپه اړه به یې د نړیوالې ټولنې ملاتړ ترلاسه شي."

ډاکټروردک وویل، ترکومه حده چې دی معلومات لری ګومان نه کېږي، چې د دې جرګې له ترسره کېدو مخکې د افغان او بهرنیو ځواکونو له خوا د دې هیواد په کومه برخه کې پراخ پوځی عملیات ترسره شي.

ټاکل شوې ده د سولې ملی مشورتی جرګه د غویی یا ثور د میاشتې په دولسمه نیټه په کابل کې د دریو ورځو لپاره د لویې جرګې په تاریخی خیمه کې جوړه شی او کابو دیارلس سوه کسان به په کې برخه واخلي.

د دې جرګې دتدارکاتو د کمیسیون رییس ډاکټر وردک وویل، چې د دې جرګې ټول ګډونوال به په کمېټو ووېشل شی او په یوه اجنډا یا موضوع به د هرې کمېټې طرحې او وړاندیزونه د جرګې عمومی غونډې ته وړاندې شي.

د سولې ملی مشورتی جرګه د جمهور رییس کرزی په غوښتنه جوړېږی او هڅه کېږي، چې په دې جرګې کې د خلکو له استازو او قومی مشرانو سره د وسله والو مخالفینو سره د خبرواترو په څرنګوالی او د خبرواترو د میکانیزم په عملی کولو سلامشوره وشي.

ایران د افغاني بندیانو ...

جنازې هم افغانستان ته راولېږدول شي.

ددې رپورټ له ورکولو وروسته د ولسی جرګې اداری پلاوی پرېکړه وکړه، چې دا مسئله د دې د نړیوالو اړیکو د کمیسیون له لارې په جدی توګه د بهرنیو چارو له وزارت سره مطرح شي.

د ورکړل شوېو معلوماتو له مخې په ایران کې له بندی پنځو زرو افغانانو له ډلې څخه درې زره یې په اعدام محکوم شوی دي.

افغان چارواکو ویلی وو، چې د افغان بندیانو د اعدامولو د مخنیوی لپاره یې له ایرانی چارواکو سره تماسونه نیولی دي.

د ولسی جرګې غړی بیا اندېښنه ښکاروی چې که چېرې د افغانانو د اعدامولو د لړی د بندولو لپاره بیړنی او جدی تماسونه و نه نیولې شی نو ممکن یو زیات شمېر افغان بند یان اعدام شي.

د وری په ۲۴ مه دولسي جرګې ...

ته هم د پلټنو لپاره ور وپېژندل شي.

نوموړی دا هم وویل، چې د ولسی جرګې د انتخاباتو د تر سره کېدو لپاره دوی څه باندې ۱۵۰ میلیونو ډالرو ته اړتیا لري، چې تر اوسه پورې ورته ۱۰۲ میلیونه ډالره برابر شوی دي، چې د دوی کارونه پرې په سمه توګه پر مخ تللی شي.

په ژوند کې مو هېڅ مثبت ...

خارجیانو او دولت سره د مرستې په تور وژني.

دی وایي چې کله کروندګر په خپلو ځمکو کې له ښېلونو سره کار کوي، نو بهرنیان فکر کوي، چې ماین ځای پر ځای کوي او یا فکر کوي چې له دوی سره ټوپکې دي .

د عبدالستار په وینا ، په همدې تور ګڼ شمېر کروندګر تراوسه د بهرنیانو لخوا وژل شوي او یا هم ټپیان دي .

د مارجې یوه قومي مشر حاجي ظاهر خان وویل : موږ په دې تمه وو، چې دولت او نړیوال به موږ ته ډاډمن امنیت تامین کړي، خو تراوسه هېڅ نه دي شوي.

د هغه په وینا، دوی فکر کاوه چې له عملیاتو وروسته به خلک د بیارغونې په پروژو کې بوخت شي، کلینیکونه او ښوونځي به فعال شي، خو دا تشې ژمنې وې.

ظاهر وایي، طالبان هغه خلک هم وژني، چې په پروژو کې مزدوري کوي او یا هم له دولت او نړیوالو څخه مرستې ترلاسه کوي .

ده زیاته کړه: د ورځې لخوا د دولت او بهرنیانو نیمه حکومت دی، خو د شپې لخوا د طالبانو بشپړه واکمنې ده.

د مارجې د نهم بلاک یو اوسېدونکی غلام ولي وایي، چې دوه ورځې مخکې طالبانو درې تنه چې د پیسو په بدل کې یې مزدوري کوله او دوه نور چې د یوه پله جوړولو په پروژه کې یې کار کاوه، ووژل .

د حاجي علي محمد په نامه د سیمې یوه بل اوسېدونکي پژواک اژانس ته وویل، چې له عملیاتو وروسته دومره بدلون راغلی، چې د طالبانو د مهال ډاډمن امنیت له منځه تللی دی .

هغه زیاته کړه :بدلون صرف دومره راغلی چې د طالبانو سخت شرایط نشته، خو امنیت سخت خراب شوی، اوس عام وګړي د طالبانو لخوا وژل کېږي او خورول کېږي.

خو د مارجې د عامه نظم د پولیسو د قطعې قوماندان، سمونوال غلام سخي غفور د امنیت په اړه د خلکو نیوکې ردوي او وایي، چې د ولسوالی ټولی سیمې د دولت او نړیوالو ځواکونو په واک کې دي .

نوموړی وایي چې په ولسوالی کې د دولت او نړیوالو ځواکونو لخوا لسګونه امنیتي پوستې جوړې کړی شوې دي .

ده زیاته کړه : مارجه د طالبانو ستر مرکز و، اوس په دې سیمه کې د بشپړ امنیت د تامینولو لپاره لږ وخت ته اړتیا شته، خو بیا هم امنیت ورځ تر ورځې ښه کېږي.

بلخوا د مارجې ولسوال حاجي ظاهر خان وایي، چې وسله وال طالبان د خلکو له کورونو څخه پر نړیوالو ځواکونو بریدونه کوي، چې له امله یې په جګړه کې عامو وګړیو ته مرګ ژوبله اوړي.

دی وایي، چې ډېری مهال دولت او نړیوال ځواکونه طالب وسله وال ونیسي، خو بیا یې قومي مشران د خلاصولو په موخه راځي او وایي چې دا عام وګړي دي.